# فیضانِ امام جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطّار قادري رضوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

طلب غم مدينه بقيع ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: فيضانِ اِمام جعفر صادِق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه

اول ځل: .........................................

تعداد: .....................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

**کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ**

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# فيضانِ اِمام جعفر صادق رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه

دا رِساله ”فيضانِ اِمام جعفر صادِق رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه“ په اردو ژبه کښې ليکلې شوې ده.
مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چې مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطه:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران
پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان
**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213
**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# فیضانِ اِمام جعفر صادِق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ [1]

دعائے عطار! یارَبَّ الـمُصطفٰی! څوک چې دا رساله ”فیضانِ اِمام جعفر صادِق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ“ اولولي یا واوري، هغه د ټولو اصحابو او اهل بیتو ریښتونے غلام جوړ کړې او د هغه ته د قیامت په ورځ د امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د خوږ نیکه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصیب کړې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د الله پاک د آخری نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: مسلمان چې تر څو پورې په ما درود شریف لولي فرښتے په هغه رحمتونه لیږي، اوس د بنده خوښه ده چې کم لولي او که زیات. (ابنِ ماجه، 490/1، حدیث: 907)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## غیبي انګور او څادرې

حضرت لَیث بن سَعْد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: زه یو ځل د حج په اراده مکّے مُکَرَّمے ته حاضر شوم، د مازدیګر د لـمانځه نه پس زه مسجد الحرام ته نزدې غر جَبَلِ اَبِي قُبَیس طرف ته لاړم. ما اوکتل چې یو کس ناست دے او دا دعا کوي: یارَبِّ! یارَبِّ! تر دې چې ساه ئې ماته شوه. بیا ئې اوویئل: ”یا الله! یا الله!“ تر دې چې بیا ئې ساه

---

[1] دا رساله په 12 رَجَبُ الْمُرَجَّب 1441 هجري بمطابق 7 مارچ 2020 د هفته وارې مدني مذاکرے او 15 رَجَبُ الْمُرَجَّب 1441 هجري بمطابق 10 مارچ 2020 د امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د عرس شپې په موقع د امیر اهل سنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د کړې بیان تحریري ګلدسته ده.

ماته شوه، بيا ئې اووئيل: ”يَاحَيُّ يَاقَيُّوْمُ! حَيُّ يَاقَيُّوْمُ!“ تر دې چې ساه ئې ماته شوه. بيا ئې اووئيل: ”يَارَحْمٰنُ! يَارَحْمٰنُ!“ تر دې چې ساه ئې ماته شوه. بيا ئې د ”يَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْن!“ وِرد كولو، كولو تر دې چې ساه ئې ماته شوه. چې كله فارغه شو نو د الله پاك په بارګاه كښې ئې عرض اوكړو: يا الله پاكه! د انګورو [كوَرو] خوړلو خواهش مې دے، په ما انګور اوخورې او زما څادر شليدلے دے، ما ته نوے څادر را عطا كړې. حضرت لَيث بن سَعْد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: په الله پاك مې دِ قسم وي! د هغه خبره لا پوره شوې نه وه چې ما يوه ټوكرئ اوليده چې د انګورو نه ډكه وه حالانكه هغه ورځو كښې د انګورو موسم نه وو او ورسره دوه څادرې هم وے. كله چې هغه د خوراک كولو اراده اوكړه نو ما اُووئيل: چې زه هم تاسو سره شريک يم، چې كله تاسو دعا اوكړه نو ما اٰمِين وئيلے وو. هغه اُووئيل: راشه، د الله پاک نوم واخله او خوره او يو څيز به هم د ساتلو د پاره نه پرېږدې. زه ورمخكښې شوم او انګورو خوړل مې شروع كړل. په هغه انګورو كښې دانے نه وے او ما داسې خواږه انګور مخكښې چرته نه وو خوړلي، څكه مې په مړه خيټه اوخوړل خو د ټوكرئ نه هيڅ هم كم نه شولو. بيا ئې ماته اوفرمائيل: په دې څادرو كښې چې كوم ستا خوښ وي هغه ترينه څان له واخله. ما اُووئيل: ماته د څادر ضرورت نشته. بيا هغه اُووئيل: ته د لږ وخت د پاره پټ شه چې زه دا واغوندم. زه يوې ډډې ته شوم. هغه يو څادر د لَنګ په طور استعمال كړو او دويم ئې د پاسه په څان را واچولو. بيا ئې خپلې ويستلې دوه څادرې لاس كښې واخستلې او روان شولو. زه هم په هغه پسې روان شوم تر دې چې كله هغه د صفا او مروه مقام ته اورسيدلو نو هغه سره يو كس ميلاؤ شولو او اوئې وئيل: اے د الله پاک د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تره [يعني د ابو طالِب] اولاده! ماته جامې

واغوندوه، الله کريم دې تاسو ته جامې واغوندوي. هغه دواړه ښادرې هغه سوال کوونکي کس له ورکړې. ما د هغه سړي نه پوښتنه اوکړه: الله دِ په تاسو رحم اوکړي دا څوک وو؟ هغه جواب راکړو: دا حضرت جعفر بن محمد (يعني امام جعفر صادق) رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ وو. حضرت ليث رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د دې نه پس ما هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ډير اولټولو خو اُومې نه موندلو. زه د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په جدائي ډير خفه شوم.

(الروض الفائق، ص224)

د الله پاك دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بےحسابه بخښنه اوشي. اٰمين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تیری نسلِ پاک میں ہے بچہ بچہ نور کا     تو ہے عینِ نور تیرا سب گھرانا نور کا

(حدائقِ بخشش، ص246)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشِقانِ صحابه و اهلِ بیت! تاسو اوکتل؟ د سيدانو د سر تاج، حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ څنګه صاحِبِ کرامات بزرګ وو. هغوئي د اهل بيتو د سترګو ستورے، د الله پاک لوئي ولي او زبردست عالِمِ دِين وو.

## د امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ تَعارُف

د شهيدِ کربلا، راکِبِ دوشِ مُصطفیٰ، امامِ عرش مقام، اِمامِ هُمام صحابي اِبنِ صحابي حضرت امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ کړوَسے تابعي بزرګ حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په 17 رَبِيْعُ الْاَوَّل 80 يا 83 هجرئ د کال په مبارکه ورځ مدينه منوره کښې پيدا شوے وو. د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ کُنيت ابو عبدُ الله او ابو اسماعيل او لقب ئې صادق، فاضل او طاهر دے. (شواہد النبوۃ، ص245، شرح شجرہ قادریہ، ص58)

هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د رښتياؤ وئيلو په وجه د صادق په لقب پيژندلے شو. يعني هغوئي اسمِ بامُسَمّٰى [يعنې د خپل نُوم په شان] وو ځکه ئې چې لقب وو هغه شان د هغوئي مبارک عمل هم وو.

## مبارک شجرهٔ نسب

د حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د مور بي بي نوم مبارک حضرت بي بي اُمِّ فَروَه بِنتِ قاسم بن محمد بن ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم دے. د هغوئي د پلار محترم نوم مبارک حضرت امام محمد باقر بن علي زين العابدين بن امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم دے. يعني امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د مور له طرفه "صِدّيقي" او د پلار محترم له طرفه "حُسيني سيّد" دے. (طبقات الکبریٰ لابن سعد،342/8 ماخوذا، فیضانِ صدیق اکبر،ص82)

صَحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادِم  یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یارسولَ اللہ

میں ہوں سُنّی رہوں سُنّی مروں سُنّی مدینے میں  بقیعِ پاک میں بن جا ئے تُربَت یارسولَ اللہ

شہا! عطاؔر پر ہر آن رَحمت کی نظر رکھنا  کرے دن رات یہ سنّت کی خدمت یارسولَ اللہ

(وسائلِ بخشش،ص330،331،332)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ شان

حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ تابعي بزرگ دے، هغوئي د دوؤ جليل القدر صحابهٔ کرامو حضرت انس بن مالک او حضرت سَهْل بن سَعْد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما دِيدار کړے دے. هغوئي نه د هغوئي شهزاده حضرت امام موسیٰ کاظم، امام اعظم ابو حنيفه، امام

مالک، حضرت سُفیان ثوري او حضرت سُفیان بن عُیَیْنَه رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په شان لویو لویو بزرګانو فیض حاصل کړے دے. (سیر اعلام النبلا، 6/ 438، 439)

## د ”عُرسِ جعفر“ د 7 حرفونو په نسبت د امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ 7 واقعات

### ﴿1﴾ ډیرې خوږې کجورې

د یو کس بیان دے چې مونږ د تابعي بزرګ حضرت امام جَعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ سره حج له روان وو، په لار کښې مونږ یو ځائے کښې د کجورو د اوچو ونو خوا کښې اودریدلو، امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په قلاره څه اولوستل چې زه پرې پوهه نه شوم، بیا هغوئي هغه اوچو ونو ته اوفرمائیل: اللّٰه پاک چې په تاسو کښې زمونږ د پاره کوم رزق پیدا کړے دے، د هغې نه په مونږه هم اُوخوروئ، هغه وخت ما اولیدل چې د کجورو غُنچے د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ طرف ته راښکته شولې، هغوئي ماته اوفرمائیل: رانزدې شه او بِسۡمِ اللّٰه اووایه اُوخوره، ما د دې نه مخکښې داسې خوږې مزیدارې کجورې کله هم نه وې خوړلې. (شواهد النبوة، ص250)

د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

### ﴿2﴾ د پنځوسو حجونو دعا

حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ خومره مُسْتَجَابُ الدَّعْوَات وو (یعني د هغوئي دعاګاني به قبلیدې)، د امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ یو بل کرامت اولولئ، یو کس هغوئي

رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته د دعا د پاره خواست اوکړو [يعني دُعا اوکړئ] چې الله پاک ما له دومره مال روکړي چې ډير حجونه [پرې] اوکړم، هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دعا اوکړه: "اے الله پاکه! ده له ډير مال ورکړې چې دا په خپل ژوند کښې "50 حجونه" اوکړي. چنانچه هغه ته دومره مال په لاس ورغلو چې هغه پوره "50 حجونه" اوکړل، کله چې په 51 ځل د حج د پاره "مقام جُحفَه" ته اورسيدلو او د غسل د پاره (نهر وغيره ته) لاړلو نو د تيزو اوبو چپو يوړلو او په هغې کښې ډوب شولو او په حق اورسيدلو. (شواهد النبوة، ص251)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تمہارے مُنہ سے جو نکلی وہ بات ہو کے رَہی کہا جو دِن کو کہ شب ہے تو رات ہو کے رَہی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿3﴾ مړ خاروے ئي ژوندے کړلو

حضرت امام جعفر صادق رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ مَکَّه مُکَرَّمَه کښې يوه ورځ چرته روان وو چې په لاره کښې يوې زنانه د خپلې غوا په مړه کيدلو باندې ژړل، هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ورته اوفرمائيل: آيا ته غوارې چې الله پاک ستا غوا ژوندۍ کړي؟ زنانه اُووئيل: تاسو ما سره داسې توقې کوئ حالانکه زه د مخکښې نه په مصيبت کښې يم. هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ هغې زنانه ته اوفرمائيل: "زه ستا سره توقې نه کووم" بيا هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دُعا اوکړه، او د هغې غوا سر او ښپے ئي اوخوزولې نو هغه فوراً پاڅيدله. (شواهد النبوة، ص249)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

فیضانِ جعفر صادق! .................جاری به اوسي !

عظمتِ امام جعفر!.....................  مرحبا!مرحبا!

بَرَکتِ امام جعفر!.....................  مرحبا!مرحبا!

صداقتِ امام جعفر!.................. مرحبا! مرحبا!

شرافتِ امام جعفر!.....................  مرحبا!مرحبا!

سیادتِ امام جعفر!.....................مرحبا!مرحبا!

کرامت ِامام جعفر! ................... مرحبا مرحبا !

فیضانِ جعفر صادق! .................جاری به اوسي!

## ﴿4﴾ ورک شوے څادر ورته میلاؤ شو

یو کس په مَکَّه مُکَرَّمَه کښې یو څادر واخستلو او اراده ئې اوکړه چې دا څادر به هیڅ چا له نه ورکووم، بلکه د خپل وفات نه پس به د تبرک په طور د دې نه کفن جوړووم، د هغه وینا ده چې کله زه د میدانِ عرفات شریف نه مزدلفے ته تللم نو هغه ”څادر“ زما نه ورک شو، زه ډیر خفه شوم، چې کله زه سحر د مزدلفے نه مِنٰی شریف ته تلم نو په **مسجد الخیف** شریف کښې کښیناستم، ناڅاپه یو سړے کوم چې د تابعي بزرګ حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه د خوا نه راغلے وو، ماته ئې اُووئیل: تاسو امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه غواړي، زه زر د هغوئي په خدمت کښې حاضر شوم او سلام مې اوکړو یو طرف ته کښیناستم، هغوئي ماته په غور اوکتل او اوئې فرمائیل:

”آیا ته دا خوښوے چې ستا څادر تا ته میلاؤ شي کوم چې ستا د مرګ نه پس ستا کفن جوړ شي“ ما عرض اوکړو: ”اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولاده! هغه خو د ډیرو ورځو نه ورک دے، که راته میلاؤ شي نو ډیره به ښهٔ وي! هغوئي خپل غلام ته آواز اوکړلو، هغه څادر راوړلو، ما چې اولیدلو (نو هغه هُم) هغه څادر وو، هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ارشاد اوفرمائیلو: ”دا واخله او د اللّٰه پاک شکر ادا کړه.“ (شواھد النبوۃ، ص249)

**د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

**اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم**

## ﴿5﴾ جنت کښې کور

”شَوَاهِدُالنُّبُوَّة“ کښې دي: د (تابعي بزرګ) حضرت امام جعفر صادق رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په خدمت کښې یو کس لس زره دیناره (یعني د سرو زرو سِکّے) راوړې او حاضر شو او عرض ئې اوکړلو: ”حضور! زه حج له ځم، تاسو زما په دې پیسو یو کور وغیره واخلئ چې د حج نه بیرته راشم چې بیا پکښې سره د خپلو بچو (هلته) اوسیږم، بیا د حج نه پس هغه کس د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په خدمت کښې حاضر شو نو هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ هغه ته اوفرمائیل: ما ستا د پاره په جنت کښې کور اخستے دے، چې د هغې وړومبے حد په حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، دویم په حضرت حضرت عَلِيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ، دریم په حضرت امام حسن مجتبٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ او څلورم حد په حضرت امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ختمیږي او دا واخله ما دا لیکلي هم دي. د دې زیري په اوریدلو هغه کس ډیر خوشحاله شولو او خط ئې واخستو او خپل کور ته لاړلو. کور ته د تللو نه پس هغه کس بیمار شو، هغه وصیت اوکړو چې دا خط دِ د هغه د مرګ نه پس هغه سره په قبر کښې کیښودے شي، د کور کسانو د دفن کولو په وخت هغه خط په قبر کښې کیښودو، بله ورځ چې ئې اوکتل نو هغه خط د قبر د پاسه پروت وو او شاته پرې دا

لیکلے شوي وو: ”امام جعفر صادق چې کوم لوظ کړے وو هغه پوره شولو“ (یعني هغه ته په جنت کښې عالیشان کور میلاؤ شولو). (شواھد النبوۃ، ص251)

## ﴿6﴾مچ ولے پیدا کړے شوے دے؟

حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ یو ځل د خلیفه منصور په دربار کښې تشریف فرما وو چې مچان بیا بیا د خلیفه په مخ کښیناستل خلیفه چې تنګ شو نو عرض ئې اوکړو: اے ابو عبدُ الله! (دا د امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ کُنِیَّت وو) الله پاک مچ ولے پیدا کړے دے؟ (هغوئي د خلیفه د تکبر ماتولو د پاره) ارشاد اوفرمائیلو: چې ظالمَان او تکبر کوونکي پرې ذلیله کړي. (حلیۃ الاولیاء، 3/230، رقم:3798)

## ﴿7﴾د عاجزئ عظیم مثال

اے عاشِقانِ صحابه و اهلِ بیت! حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به د اعلٰی نسب لرلو باوجود عاجزي کوله. یو ځل د امام اعظم امام ابو حنیفه رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ عظیم شاګرد، ډیر لوئي عالم او صوفي بزرګ حضرت داؤد طائي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هغوئي ته عرض اوکړو: اهل بیتو نه د کیدلو په حیثیت ما ته څه نصیحت اوفرمائي! خو هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چپ پاتې شول. بیا ئې عرض اوکړو چې ”اهل بیتو نه د کیدلو په اعتبار چې الله پاک تاسو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ته کوم فضیلت درکړے دے، په دې لحاظ سره نصیحت کول ستاسو د پاره ضروري دے.“ دا ئې چې واوریدل نو هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اوفرمائیل: زه خو یځپله ویریږم، چې چرته د قیامت په ورځ زما جَدِّ اعلٰی (مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) زما لاس اونیسي او پوښتنه رانه اوکړي چې تا یځپله ولے زما تابعداري نه ده کړې؟ ځکه چې د نجات تَعَلُّق د نسب سره نه بلکه د اعمال صالحه (یعني نیکو

کارونو) سره دے. حضرت داؤد طائي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چې دا واوریدل نو په ژړا شولو چې هغه هستي د چا جَدِّ امجد [يعني لوئي نيکه مبارک] چې د الله پاک آخري رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، چې د هغوئي د الله پاک نه د ويرې دا حالت دے نو زما څې حيثيت دے؟

(تذکرة الاولياء، 21/1)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

کَرم سے ہم پہ، امامِ جعفر ہیں سایہ گُستر، امامِ جعفر

ہمیں ہو کیوں کر، امامِ جعفر عَدو کا اَب ڈر، امامِ جعفر

سَخا کے پیکر، امامِ جعفر غَریب پَرور، امامِ جعفر

حَیا کے پیکر، امامِ جعفر ہمارے رہبر، امامِ جعفر

تُو دور دِلبر، امامِ جعفر غم و اَلَم کر، امامِ جعفر

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو مبارک عادتونه

د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په مبارک طبيعت کښې خوش اخلاقي وه، په مبارکو شونډو به ئي مسکا خوره وه خو چې کله به د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذکر کيدلو نو (د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذکر د هَيبَت او تعظيم په وجه) به ئي رنګ زيړ شولو، کله به ئي هم بے اودسه ”حديث پاک“ نه بيانولو، په لمانځه او تلاوت کښې به مشغول اوسيدلو يا به خاموشه اوسيدلو، د هغوئي خبرې به ”د فضولو خبرو“ نه پاکې وې. (شفا، 42/2)

# درې عبادتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د ظاهري او وباطني علومو جامع وو، هغوئي په رياضت او عبادت او مجاهده کښې مشهور وو، د امام مالک رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه بيان دے چې زه به د يوے زمانے پورې د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په خدمت مبارك کښې حاضريدم، ما به هميشه هغوئي په دريو عبادتونو کښې په يو کښې مصروف ليدلو، يا خو به هغوئي لمُونځ کولو يا به ئې د قرآن پاک تلاوت کولو او يا به روژه وو. (شفا، 42/2)

اے عاشِقانِ صحابه و اهلِ بيت! تاسو اولوستل چې عظيم عاشِقِ رسول حضرت امام مالک رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي چې ما به هميشه امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په عبادت کښې ليدلو، مونږ له هم د خپل ځان په باره کښې لږ غور پکار دے چې زمونږه څومره وخت د الله پاک او د هغه د خوږ آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ياد کښې تيريږي؟ زمونږ د لمُونځونو څه حالت دے؟ آيا مونږه هم هره ورځ د قرآن کريم تلاوت کوو؟ آه! امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به د فرضو سره سره نفلي روژے هم نيولې او مونږ دِ صرف فرض روژې هم نه شو نيولے؟ اے کاش! چې مونږ ته هم د خپلو بزرګانِ دينو په نقش قدم باندې تلل را نصيب شي. چې الله پاک توفيق درکړي نو د فرضو سره سره ډير ډير نفلونه هم کوئ، هره ورځ مو که کم نه کم د يوے سيپارے تلاوت عادت جوړ شي نو څنګه به ښۀ وي، بے شکه د کهير او پورئ [يو قِسم دَ ميدے نرئ غورې ډوډئ] او کونډو [يعني د خاورو په کاسو] کښې نياز [يعني د ايصالِ ثواب خيرات] ضرور کوئ خو د امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه سره مينه صرف د کهير پورو ښخول او په خلقو خوړل نه دي، بلکه د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه رينښتوني مينه خو دا ده چې مونږه د هغوئي په نقش قدم روان شو او د هغوئي په شان په نيکو

کښې هم رغبت اولرو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رجب مياشت، د امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه مياشت روانه ده. د چا چې نه چې کيدے شي هغه دِ ډيرې ډيرې نفلي روژے هم اونيسي.

## صوفي څوک؟

حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْه فرمائي: "څوک چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري حالاتو مبارکو مطابق ژوند تير کړي هغه په سنتو عمل کوونکے دے او څوک چې د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د باطني حالاتو مبارکو مطابق ژوند تير کړي هغه "صوفي" دے، او د باطني ژوند نه د حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَيْه مراد د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک اخلاق او آخرت اختيارول دي ځکه چې څوک ځان د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اخلاق کريمه ښائسته کړي او څه چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اختيار کړي دي هغه اختيار کړي، په څه کښې چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رغبت ساتلے وو په هغې کښې رغبت ساتي، د کومو څيزونو نه چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځان ساتلے وو د هغې نه ځان ساتي او د کومو کارونو چې ئې ترغيب ورکړے دے په هغې عمل کوي نو بے شکه هغه د ګندګئ نه د صفا سوتره کيدلو سره سره د غير نه نجات حاصل کړو او چا چې د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاره پريښوده او د خپل نفس غلام شو او د خپلې خيټې او شرمګاه په خواهشاتو پوره کولو کښې مشغول شو نو داسې کس د صوفي جوړيدو نه لرې، بيوقوفئ کښې کوشش کوونکے او د راتلونکو خطرناکو حالاتو نه غافله دے. (حلية الاولياء، 53/1)

صدقِ صادِق کا تَصَدُّق صادِقُ الْاِسلام کر
بے غَضب راضی ہو کاظم اور رضا کے واسطے

**شرح شجره شريف:** دا شعر د سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه د شجره شريف څلورم شعر دے، دې شعر کښې د سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه شپږم، اووم او اتم شيخ طريقت امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَیۡه، بيا د هغوئي شهزاده امام موسیٰ کاظم او بيا د هغوئي د شهزاده امام علي رضا په وسيله دعا غوښتلے شوې ده چې يا اللّٰه پاکه! د امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَیۡه د "صدق" (يعني رينښتيا وئيلو) په وسيله ماته د ايمان سلامتيا را نصيب کړې او د امام موسیٰ کاظم او امام علي رضا رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَیۡه په وسيله په ما د غضب کولو نه بغير زما نه راضي شې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د صديق اکبر او فاروق اعظم شان د امام جعفر صادق په ژبه (رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم)

د حضرت امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَیۡه نه د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ په حقله تپوس اوشو نو هغوئي اوفرمائيل: زه د هغوئي په حقله صرف ښهٔ خبره کولے شم ځکه چې ما د خپل پلار محترم حضرت امام باقر رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَیۡه نه، هغوئي د حضرت امام زين العابدين رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ او هغوئي د حضرت امام حسين رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت بيان کړے دے چې مولا علي شير خدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائيلي دي: ما د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې "د ابوبکر صديق نه په افضل انسان باندې تر اوسه پورې نه لمر راختلے دے او نه پرې پريوتلے دے." د دې نه پس امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَیۡه اوفرمائيل: "که چرې ما په روايت بيانولو کښې غلط بياني کړې وي نو زما دِ د قيامت په ورځ د سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب نه شي او (زه به د ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فضائل ولے نه بيانووم چې) زه خو پخپله د قيامت په ورځ "د صديق اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د شفاعت طلبګار يم." هغوئي رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: څوک

چې د شيخينِ كريمينو (يعني د حضرت ابوبكر صديق او حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا) د فضيلت نه بے خبره دي، هغه د سُنَّتو نه بے خبره دي، ما په اهل بيتو كښې داسې هيڅ څوك نه دے ليدلے چې د دوئي سره مَحَبَّت نه لري. نور فرمائي: "بے شكه د حضرت ابوبكر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ زړه د ربوبيت د مُشَاهَدے نه ډك وو، د هغوئي په زړه كښې د الله پاك نه علاوه نور څوك نه وو. هغوئي به د "لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" وِرد ډير زيات كولو او د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په ژبه مباركه به اكثر "اَللّٰهُ اَكْبَرُ" جاري وو." (الرياض النضرة،1/59،67،136ملتقطا)

## د هغه كس سره زما هيڅ تعلق نشته

يو كس د هغوئي نه د حضرت صديق اكبر او فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا په باره كښې تپوس اوكړو : نو هغوئي اوفرمائيل: ته زما نه د هغوئي په باره كښې پوښتنه كوې چا چې د جنت ميوه خوړلې ده. (سيراعلام النبلاء،6/441،رقم:948) د هغه كس سره زما هيڅ تَعَلُّق نشته څوك چې د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن حضرت ابوبكر صديق او حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا ذِكر د "خير" سره اونكړي. (تاريخ الخلفاء،ص96)

هر صحابئ نبي! جنتي جنتي
ټولې صحابياتې هُم! جنّتي جنّتي
څلور ياران د نبي! جنّتي جنّتي
حضرت صِدّيق هُم! جنّتي جنّتي
او عمر فاروق هُم! جنّتي جنّتي
عثمانِ غنيٰ! جنّتي جنّتي
فاطمه او علي! جنّتي جنّتي
حَسَن او حُسَين هُم! جنّتي جنّتي
والدين د نبي! جنّتي جنّتي
هره زوجهٔ نبي! جنّتي جنّتي
حضرتِ معاويه! جنّتي جنّتي
او ابوسُفيان هُم! جنّتي جنّتي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# امام جعفر صادق او د مرګ یاد

حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ به د دومره لوئي عظمت او شان مالك لرلو باوجود مرګ یادولو. هغوئي به د شپې اَدَیرو [مقبرو] ته تشریف وړلو او فرمائیل به ئي: اے قبرونو والؤ! څه خبره ده چې تاسو سره زه خبرې کووم او تاسو جواب نه راکوئ؟ بیا به هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائیل: افسوس! زما او ستاسو په مینځ کښې پرده راغلي ده خو په راتلونکې وخت کښې زه هم ستاسو په شان کیدونکے یم. هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ به مسلسل داسې فرمائیل تر دې پورې چې صبا صادق به شولو [یعني سحر به را اوختلو] نو هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ به د سحر لمُونځ د پاره جُمات ته تشریف یوړلو. (احیاء العلوم، 237/5)

هغوئي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: اے اِبنِ آدم! د یو څیز د نشت والي ولے غم کوئ؟ دا (غم کول ) به هغه (څیز) تاسو له بیرته را نوړي او په یو موجود څیز ولے "تکبر" کوئ؟ مرګ به دا تاسو ته پرې نږدي. (صراط الجنان، 748/9)

لازمی ہے ہر صُورت چھوڑنا گناہوں کا     بھائی موت سے پہلے کاش! تُو سُدھر جاتا
غیر کے تُو فیشن کو چھوڑ دے مِرے بھائی     اُن کی سُنّتیں اپنا کیوں ہے دَربدر جاتا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# پینځه قسمه خلق

حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: "د پینځه قسمه خلقو سره مه کښینئ:

(1) ډیر دروغژن کس، ځکه چې هغه به تا له دهوکه درکوي، هغه د سراب په شان دے (سراب د شګو د زمکې هغه رنړا کومه چې د سپوږمئ یا لمَر د رنړا لګیدلو نه پیدا کیږي، په کومه چې د اوبو دهوکه لګي یعني اوبه ښکاري)، هغه به تاته لرې نږدے کړي

او نزدې به درنه لرې کړي. (2) بې وقوفه سړے، ځکه چې هغه به تا له هيڅ درنکړي، هغه به تا ته ګټه [يعني فائده] درکول غواړي خو تاوان به درکړي. (3) کنجوس [شُوم] کس، ځکه چې کله ستا هغه ته ډير ضرورت وي نو هغه به دوستي ختمه کړي. (4) بزدله کس، ځکه چې دا به مشکل وخت کښې تا يواځې پريږدي اَو وبه تښتي. (5) فاسِق، ځکه چې هغه به تا په يوه لُقمه [يعني يوه نوړۍ] يا د دې نه هم په کم نرخ خرڅ کړي، چا تپوس اوکړلو چې د نوړۍ نه کم څه وي؟ هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ اوفرمائيل: لالچ ساتل او هغه نه موندل. (صِراط الجنان،4/258)

## د ويرې نه د حفاظت نسخه

د اعلٰی حضرت پلار محترم، علامه مولانا مفتي نقي علي خان رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ فرمائي: د امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ نه روايت دے: څوک چې د عِجز (يعني بې وسۍ) په وخت پينځه ځله ''يَارَبَّنَا'' اووائي، اللّٰه پاک به هغه ته د هغه څيز نه امان ورکړي د کوم نه چې هغه ويريږي، او څه چې غواړي، ورته عطا به ئې کړي. (فضائل دُعا،ص71) د ''يَارَبَّنَا'' مطلب دے اے زمونږ پروردګاره.

## د رجب کونډے

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحَمَّد امجدعلي اَعظمي رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ فرمائي: دَ رَجَب په مياشت کښې بعضې ځائيونو کښې دَ حضرت (سَيِّدُنا) اِمام جَعفَر صادِق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِيصالِ ثواب د پاره په کونډو [يعني د خاورو په کاسو] کښې پورۍ [يو قِسم دَ ميدے نرۍ غوړې ډوډۍ] ورکولے کيږي دا هم جائِز دي خو په دې کښې بعضو خلقو هم په هغه ځائے کښې د خوړلو پابندي لازمه کړي ده، دا پابندي

صحيح نه ده. د دي کُونډے مُتَعَلِّق يو کتاب هم دے چې د هغې نوم "داستانِ عَجیب" دے، بعضې خلق په دې موقع باندې هغه لوَلي په هغې کښې چې څه ليکلي شوي دي د هغې هيڅ ثبوت نشته ځکه هغه لوستل نه دي پکار، بلکه په دې موقع فاتِحه لوستل او هغه اِيصالِ ثواب کول [يعني وربخښل] پکار دي. (بہارِ شریعت، حصہ16، 3/643)

هم دغه رنګ "دَس بیبیوں کی کہانی"، "لکڑ ہارے کی کہانی" او "جناب سَیِّدہ کی کہانی" ټولي هسې بے حقيقته د ځان نه راجوړې شوې قِيصے دي، دا مه لولئ، د دې په ځائے يو ځل سُوْرَۃُ یٰسٓ لولئ د لس ځله قُرآن کريم ختمولو ثواب به مو کيږي دا هم ياد ساتئ! چې صرف په کونډو کښې کِهير خوړل او وَرکول ضروري نه دي، په نورو لوښو کښې ئې هم خوړلے او ورکولے شئ. اِيصالِ ثواب (يعني ثواب وربخښل) د قُرآنِ کريم او احاديثِ مُبارکه نه ثابِت دي، اِيصالِ ثواب د دُعا په ذريعه هم کيدے شي او په ډوډئ وغيره باندې د فاتِحه لوستلو په ذريعه هم کيدے شي. د کونډو خيرات هم د ايصالِ ثواب يو صورت دے، دې ته ناجائِز وئيل په شرِيعت باندې دروغ (يعني تُهمت لګول) دي. ناجائِزه ويونکي دِ د سيپاره 7 سُوْرَۃُ الْمَآئِدَہ په آيت نمبر87 کښې د بيان شوي حُکمِ اِلٰهی نه عِبرت واخلي چنانچه اِرشاد کيږي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَ لَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۸۷﴾ (پ7، المآئدۃ:87)

[مَفهوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ايمان والؤ! مه حراموئ، هغه پاک څيزونه چې الله ستاسو د پاره حلال کړي دي او د حد نه مه تيريږئ. بے شکه الله پاک د حد نه تيريدونکي نه خوښوي.

## د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فرمان مبارک

مَارَآهُ الْمُسْلِمُوْنَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ حَسَنٌ یعني هغه څيز کوم چې مسلمانان (اهل علم او اهل تقوٰی) ښهٔ ګڼړي هغه د الله پاک په نزد هم ښهٔ دے. (مسند امام احمد، 16/2، حدیث:3600)

## مصيبتونه لرې کيږي

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د پاره فاتحه کوئ، (چې د دې په برکت) ډير انبتې [پاخه] مصيبتونه لرې کيږي. (اسلامی زندگی، ص133)

## د مزيدار کهير جوړولو طريقه

د حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ايصال ثواب د پاره مسلمانانو کښې د کونډېو عمل عام دے، د کونډېو [یعني د خاورو د بے پالشه لوښو] د حکمت په حقله ما څه نه دي لوستلي البته زما تجربه دا ده چې د خاورې هُغه کونډېئ [يعني کاسه] په کومه چې پالش نه وي شوے، هغې کښې مسام [یعني نه ښکاريدونکي سُوري] وي، په هغې کښې کهير [يخولو او تينګولو د پاره] اچولو سره کهير ډير خوندَوَر شي. بعضې کِچن والا د خاورې په ورو ورو پيالو کښې کهير [يخولو او تينګولو د پاره] اچوي، په کومو چې پالش نه وي شوے، په هغې کښې جوړ کړے شوے کهير ډير خوندَوَر وي. که چرې د ستيلو په لوښي کښې کيښودے شي نو بيا ئې خوند هغسې نه وي څومره چې د خاورې په لوښي کښې وي. د الله په لار کښې چې ورکوونکي څيز، نياز او دعا چې په څومره خوَوندَوَر څيز اوشي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي او د مسلمان زړه به پرې ډير خوشحاليږي. د کونډو نياز چې چا شروع کړے وي

هغوئي به په دې ځیزونو پوهیدل، بیا په قلاره قلاره خلقو د کونډو [یعني د خاورو د بے پالشه لوښو] حکمت هیر کړو او صرف نوم ئې پاتې شوے دے. د امام جعفر صادق رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ نیاز په هر یو حلال ځیز کیدلے شي. د څه پخولو او خوړلو نه بغیر صرف درود شریف لوستلو سره هم ایصالِ ثواب کیدے شي. د ایصال ثواب په حقله د نورو معلوماتو د پاره د مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِینه رساله ''فاتحہ کا طریقہ'' اولولئ.

## د رجب کونډے په کوم تاریخ کول پکار دي

د رجب په ټوله میاشت کښې بلکه ټول کال کښې چې کله هم اوغواړئ د ایصال ثواب د پاره د کونډو نیاز کولے شئ، البته مناسبه دا ده چې په 15 رَجَبُ الۡمُرَجَّب ''د رجب کونډے'' اوکړے شي ځکه چې دا د هغوئي د عرس ورځ ده څنګه چې په فَتَاوٰی فقیهِ مِلَّت جلد 2 صفحه 265 کښې دي چې ''د حضرت امام جعفر صادق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نیاز په 15 رجب کوئ ځکه چې د هغوئي وصال په 15 [رجب] شوے دے.''

## ورځ ټاکل

**وسوسه:** د دریمې، څلویښتمې، یوولسمې، دولسمې او کونډے وغیره په نوم د ایصال ثواب ورځې ولے خاص کړے شوے دي؟

**جوابِ وسوسه:** د ایصال ثواب د پاره په شریعت کښې څه میعاد او وخت ټاکل ضروري نه دي، البته ورځ وغیره ټاکلو کښې شرعي لحاظ سره هیڅ باک نشته، وخت ټاکل په دوه قسمه دي **(1) شرعي:** چې شریعت د څه کار د پاره وخت ټاکلے وي، د مثال په توګه قرباني، حج وغیره. **(2) عُرفي:** چې شریعت کښې وخت ټاکلے شوے نه وي خو خلق د ځان او نورو د آسانتیا او یاد ساتلو یا د یو خاص مصلحت د پاره یو

وخت اوټاکي، څنګه چې په جماتونو کښې نن صبا د لمُونځو د جَمعې د پاره وختونه ټاکل وغيره حالانکه مخکښې به د جَمعې د پاره وخت نه ټاکلے کيدلو، چې خلق به د لـمانځه د پاره راجمع شول نو جمع به اودريدله. د ځينې کارونو د پاره خو پخپله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وخت ټاکلے وو او د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم او بزرګانِ دين رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْهِم نه هم داسې کول ثابت دي د مثال په طور: (1) حضور پرنور سيد عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُحد د شهيدانو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د زيارت د پاره د کال آخري وخت ټاکلے وو. (2) د خيالي په ورځ به خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مسجد قُبا ته تشريف وړلو (3) او د صديق اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره د ديني مشورے د پاره د سحر او ماښام وختونه ټاکل (4) حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د وعظ او تذکير (يعني درس او بيان) د پاره د زيارت ورځ ټاکلې وه (5) او عالمَانو صاحبانو د سبق شروع کولو د پاره د شروع [چارشنبے] ورځ اوټاکله. (فتاوٰی رضویه 9/585، 586 ملتقطا)

## د "فيضان جعفر" د 9 حروفونو په نسبت د امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه 9 ارشادات

﴾1﴿ چې الله پاک تاسو له يو نعمت درکړي او غواړئ چې هغه نعمت د هميشه د پاره وي نو په هغې باندې زيات شکرادا کوئ. (حلية الاولياء، 3/225،رقم:3783)

﴾2﴿ که چرې تاسو ته په رزق کښې تاخِير [ليټ والے] محسوس شي نو اِستغفار (يعني اَسْتَغْفِرُالله) زيات وائي. (حلية الاولياء، 3/225،رقم:3783)

﴾3﴿ الله پاک دنيا ته حکم اوفرمائيلو: اے دنيا! څوک چې زما عبادت کوي ته د هغه خدمت کوه او څوک چې ستا خدمت کوي ته هغه ستړے کړه.

(حلية الاولياء، 3/226،رقم:3785)

﴾4﴿ د صدقے په ذریعه رزق زیات کړئ او د زکوٰة په ذریعه خپل مالونه محفوظ کړئ.

(حلیة الاولیاء، 3/227،رقم:3792)

﴾5﴿ الله پاک سود ځکه حرام کړو چې خلق د نیکئ نه منع نه شي.

(حلیة الاولیاء، 3/226،رقم:3789)

﴾6﴿ الله پاک فضول خرچ کوونکے محرومه کوي. (حلیة الاولیاء، 3/227،رقم:3792)

﴾7﴿ په دین کښې د جنګ جګړو نه ځان بچ ساتئ دا زړه مصروفه کوي او نِفاق (یعني منافقت) پیدا کوي. (حلیة الاولیاء، 3/230،رقم:3799)

﴾8﴿ میانه روي اختیاروونکے نه غریب کیږي. (حلیة الاولیاء، 3/227،رقم:3792)

﴾9﴿ د پرهیزګارئ نه غوره هیڅ د سفر سامان نشته، د خاموشئ نه بهتر هیڅ څیز نشته، د جهالت نه زیات نقصان رسوونکے دښمن نشته او د دروغو نه لویه بیماري نشته. (سیر اعلام النبلاء، 6/444)

حُبِّ ساداتِ اے خدا دے واسِطہ　　اہلِ بیتِ پاک کا فریاد ہے
آہ! سِبطِ مصطفٰے فریاد ہے　　ہائے! ابنِ مُرتَضٰی فریاد ہے
بہرِ زینب بے حیائی کا حضور　　خاتِمہ ہو خاتِمہ فریاد ہے
حال ہے بے حال شاہِ کربلا　　آپ کے عطّآر کا فریاد ہے

## وصال باکمال

په 15 رَجَبُ الْمُرَجَّب 148ھ یو بدبخته کس حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ له زهر ورکړل کوم چې د هغوئي د شهادت سبب جوړ شو. د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ مزار شریف په جَنَّتُ الْبَقِیع کښې د خپل پلار محترم حضرت امام محمد باقر رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په خوا کښې دے. (شواہد النبوۃ، ص245، شرح شجرہ قادریہ، ص59)

اللّٰہ پاک دِ په حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ خپل ډېر ډېر رحمتونه نازل کړي، او مونږ ته دِ د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ډېر ډېر برکتونه را عطا کړي. د حضرت امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د نياز [يعني د ايصالِ ثواب خيرات] خوړلو سره سره لمُونځونه او نورې نيکۍ هم کوئ او د ګناهونو نه بچ اوسئ او د خپل آخرت د ښائسته کولو کارونه کوئ.

کَرم سے ہم پر، امامِ جعفر　　ہیں سایہ گُستر، امامِ جعفر
ہمیں ہو کیوں کر، امامِ جعفر　　عَدو کا اَب ڈر، امامِ جعفر
سَخا کے پیکر، امامِ جعفر　　غَریب پَرور، امامِ جعفر
حَیا کے پیکر، امامِ جعفر　　ہمارے رہبر، امامِ جعفر
تُو دور دِلبر، امامِ جعفر　　غم و اَلم کر، امامِ جعفر

## د امام جعفر صادق رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ منقبت

امامِ جعفرِ صادق، مُرادِ اہلِ یقیں　　سلوک و عشق کی منزل ہے جن کے زیرِ نگیں
امیرِ بزمِ شریعت، مرید شاہِ نجف　　شعاعِ مہرِ رسالت، متاعِ علم و یقیں
وہی ہیں مرکزِ اُمیدِ نقشبند و عراق　　ہیں ان کے فیض کے جویا تمامِ اہلِ زمیں
اُنھی کے نورِ ولایت سے کوفہ و بغداد　　فقہ و علم و شرف کے ہیں تابدارِ نگیں
رشید وارثِ عالم نواز کے صدقے　　ہیں صاحبانِ طریقت کے ہم بھی حلقہ نشیں

## د ملت رهنما

ملت کے رہنما ہیں، حضرت امامِ جعفر سردارِ اولیا ہیں حضرت امامِ جعفر
کردار میں جھلک ہے ، انوارِ مصطفیٰ کی نورانی آئینہ ہیں حضرت امامِ جعفر
سیرت ہے انکی روشن ، آقا کی سنتوں سے اللہ کی رضا ہیں حضرت امامِ جعفر
سینہ بسینہ پہونچی، حسنین کی وراثت فرزندِ مرتضیٰ ہیں، حضرت امامِ جعفر
انکے گُلِ عمل سے، مہکی ہے بزم تقویٰ سلطانِ اصفیا ہیں حضرت امامِ جعفر
اربابِ حق کا ہادی ، ہراک قدم ہے انکا اک جلوۂ ہُدیٰ ہیں حضرت امامِ جعفر
کونین کی بلندی، ہے انکے نقشِ پا میں محبوبِ مصطفیٰ ہیں حضرت امامِ جعفر
ان سے ہوئی دوبالا، سادات کی تجلی اک نَیّرِ صفا ہیں حضرت امامِ جعفر
صدیق کے کرم سے ، انکا لقب ہے صادق فاروق کی عطا ہیں حضرت امامِ جعفر
کونڈے کا یہ تبرک دل تاب و جاں فزا ہے ایمان کی ضیا ہیں حضرت امامِ جعفر
ہستی کے پھول سارے، ب تک مہک رہے ہیں گلزارِ اِتّقا ہیں حضرت امامِ جعفر
ہے ان کے باغیوں کو، دارین کا اندھیرا نورِ دلِ وفا ہیں حضرت امامِ جعفر
جو کچھ بھی اُن سے مانگا، ہمکو ملا، فریدی عثمان کی سخا ہیں حضرت امامِ جعفر

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com